# سنګين ولي خان ته

يو تاثر

سلمٰي شاهين

تاچې سترګې کړلې پټې غلې لاړې
اے د حُسن نغمه ګره چرته لاړې
لا کلۍ وې لکه ګل سپړدلے نۀ وې
اے په ګلو په سپرلو مئينه لاړې
تا د رب سره کړه مينه
په فطرت حسن پرست وې
د غني کاکا هم خياله د غني کاکامثاله
د غني د اظهار ژبه شاعري وه
تا چاپېره ټول د حُسن مظاهر کړۀ
تۀ پيدا حُسن پرست وې
مشغولا دې مينه حُسن او ښکلا وه
خو چې وخت د پسرلو شو
د ګلونو موسېدو شو
رڼاګانې چې خورېږې
او تيارې په ورکېدو دي
تا کړې خپلې سترګې پټې
غلے لاړې
اے د حُسن نغمه ګره چرته لاړې
د بي بي د سترګو توره
د بابا د زړۀ ټکوره
اے سنګينه ولي خانه
ځنې برخې ازلي وې کړېدلې

ځنې برخې ازلي وې ژړېدلې
ازمېښتونه محرومۍ وې د ازله
د پيرۍ اسره دمه خو
ښۀ زامن وي
تۀ نيمګړے نيمه خوا شوې
ژونده لاړې
لوئے ارواح ستر باچاخان به وي خوشحاله
ستا بابا دروند ولي خان به وي خوشحاله
او په تا مئين غني به هر کلے کړي
چې د مينې د چمن د ښائسته ګلو
ډېر ښائسته او ډېر نيازبين ګل
مونږ له راغے
په دې ګل به اوس هغه جهان روښان وي
او په هر طرف به خور يو چراغان وي
خدائے دې صبر حوصله ناوې له ورکړي
ستا يادونه لوپټه د دې اسره شه
خدائے دې ستا بچي رڼا د ټول جهان کړي
خدائے دې دوي همېش ځرګند په ټول جهان کړي
خدايه فضل رحيم تۀ ورباندې وکړې
او نصيب ئې خوشحالي د بل جهان کړې
رحمتونه پرې نازل کړې دهر لوره